عمومي اسامبله
د امنيت شورا

خپرونه: عمومي
۹ ډسمبر ۲۰۲۰

عمومي اسامبله
پنځه اويايمه ناسته
د اجنډا ۳۹ ماده
د افغانستان وضعیت

د امنيت شورا
پنځه اويايم کال

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

### د عمومي منشي راپور

## لومړی. پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د 68/11 پریکړه لیک او د امنیت شورا د 2543 (2020) پریکړه لیک پر بنسټ، په کوم کې چې له عمومي منشي څخه غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د افغانستان د پرمختګونو او تحولاتو په اړه راپو ر ورکړي، وړاندې کیږي.

۲. د ۲۰۲۰ کال د آګسټ پر ۱۸ نېټه زما د پخواني راپور (A/75/378-S/2020/809) له خپریدو راهیسې، دغه راپور د سیاسي، بشري، پرمختیايي او بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

## دویم. اړوند پرمختګونه

۳. د ولسمشر اشرف غني او د مصالحې د عالي شورا د رئیس عبد الله عبد الله له خوا نوماند وزیران د باور رایې لپاره ولسي جرګې ته معرفي شول. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو ترمنځ د سولې مذاکرات د سپتمبر پر ۱۲ نېټه په دوحه کې پیل شوې. په لوړه کچه تاوتریخوالي په افغانستان په تېره بیا د هیواد په جنوبي سیمو کې دوام درلود چې د سولې د مذاکراتو له پیل سره سره د پام وړ لوړ شمیر د دوامدارو ملکي تلفاتو لامل شوي. حکومت د سولې د بین الافغاني پخلاینې، اقتصادي همکارۍ او اتصال په اړه سیمه ییزې اجماع ته وده ورکول جاري ساتلې. د تاوتریخوالي، طبیعي پیښو، په لوړه کچه د خوړو نا خوندیتوب او کورونا وایروس ناروغۍ (کوویډ-۱۹) له امله بشري وړتیاوې لوړې شوي، چې د ۲۰۲۰ په نیمه یې کې له ۱۴ میلیونو څخه په ۲۰۲۱ کال کې به د اټکل له مخې ټولټال ۱۸.۴ میلیونه وګړي بشري مرستو ته اړ وي. د افغانستان په اړه د ۲۰۲۰ کال په کنفرانس کې چې نومبر پر ۲۳ او ۲۴ نېټه په جنیوا کې ترسره شو، د هیواد د سوالې، ښیرازۍ او ځان بسایني په ملاتړ بیا نوې شوې نړیوالې ژمنې ورکړل شوې.

20-16138 (E) 141220

**الف. سیاسي تحولات**

۴. د هغې سیاسي هوکړې پر بنسټ چې د ښاغلي غني او ښاغلي عبد الله ترمنځ د مۍ پر ۱۷ نېټه ترسره شوه او دواړو لورو ته د کابینې د منصبونو مساوي ونډه ورکوي، ښاغلي غني ټولټال ۱۳ نوماند وزیران او دوه د دولت وزیران او ښاغلي عبد الله ۱۰ نوماند وزیران او یو د دولت وزیر اعلان کړل. ټولو هغو یې د سرپرست وزیرانو په څیر د اړوندو ادارو چارې په لاس کې واخیستې. د اکتوبر پر ۲۱ نېټه، ښاغلي غني ۲۳ (د ۴ ښځو په ګډون) نوماند وزیران او درې نور د دولت وزیران معرفي کړل چې د ولسي جرګې د بشپړې باور رایې لپاره د پارلمان تایید ته اړتیا لري. هغه دغه راز د والیانو ګمارنې هم جاري ساتلې. له مارچ راهیسې، له ۳۴ والیانو ۲۲ هغه یې تبدیل شوي.

۵. د اګست پر ۱۴ نېټه، ولسمشر د ښځو د عالي شورا د رامنځ ته کولو په اړه یو فرمان صادر کړ چې هدف یې د ښځو د ځواکمنتیا او د ښځو د حقونو په تړاو د حکومت د ژمنو د تطبیقولو ملاتړ و. د یادې شورا غړې، د هغې صلاحیتونه او د شورا او د موجوده حکومتي جوړښتونو ترمنځ اړیکې لا تر اوسه نه دي تعریف شوي.

۶. د مۍ د ۱۷ نېټې په هوکړه کې د ټاکنیزو اصلاحاتو د غوښتنې سره سم، د عدلیې وزرات د ټاکنو د قانون او د سیاسي ګوندونو د قانون بیا کتنه پیل کړې او د سیاسي ګوند او د انتخاباتي کمپاین د تمویل په تړوا د یوه قانون د جوړولو کار یې پیل کړی. د مدني ټولنې د انتخاباتو د همغږۍ د ګروپ او د افغانستان د ازادو او عادلانو ټاکنو د ټولنې په ګډون د مدني ټولنې سازمانونو د انتخاباتي مدیریت ادارو ته خپل د انتخاباتي اصلاحاتو وړاندیزونه وړاندې کړي. د انتخاباتي مدیریت ادارو د امنیتي وضعیت، پر انتخاباتي حوزو د توافق او بودجې په پام کې نیولو سره د غزني ولایت لپاره د ولسي جرګې د ځنډېدلو ټاکنو لپاره پلانول پیل کړي او د ۱۹۹ منصبونو لپاره یې ګمارنه پیل کړې.

۷. د اګست له ۷ تر ۹ نېټې پورې، په کابل کې له ټول افغانستان څخه د ۷۰۰ ښځو په ګډون د ټولنې ۳۰۰۰ استازې د ۴۰۰ نورو بندیانو د خوشې کولو په اړه چې د طالبانو له خوا یې غوښتنه کیده، د سلا مشورو لپاره د سولې په مشورتې لویه جرګه کې راغونډ شوي وو. د اګست پر ۹ نېټه، دغو استازو یو پریکړه لیک تصویب کړ په کوم کې چې هغوي د بندیانو د خوشې کولو سپارښتنه او مذاکراتو د سملاسي پیل، اوربند او د ولسواکۍ، د اساسي قانون او د ښځو او لږکیو په ګډون د ټولو افغانانو د بنسټیزو حقونو د ساتنې غوښتنه کړې وه. که څه هم ځینو تبصره کوونکو د بندیانو د خوشې کولو او د جګړې د قربانیانو لپاره د حقونو په پام کې نیولو په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې، د افغان سیاسي څېرو او د مدني ټولنې د ګروپونو له خوا په پراخه کچه د دغه پریکړه لیک هرکلی وشو. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د دې یادونه وکړه چې ولسمشر د دې واک نه لري هغه بندیان خوشې کړي چې جنګي جرمونو او د بشریت په ضد جرمونه یې ترسره کړي وي. د اګست پر ۱۰ نېټه، ولسمشر د یوه حکم په صادرولو سره سره د ۴۰۰ بندیانو د خوشې کولو اجازه ورکړه.

۸. افغان دولت او طالبانو د مذاکراتو لپاره خپل چمتوالی جاري ساتلی. د اګست له ۲۳ څخه تر ۲۶ پورې، د طالبانو د مرستیال او د سیاسي کمیسیون د مشر ملا برادر په مشرۍ د طالبانو یوه پلاوي په پاکستان کې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي او د افغانستان لپاره د پاکستان له ځانګړي استازي محمد صادق سره ولیدل. د اګست پر ۲۶ نېټه، طالبانو د مذاکراتو د ۲۰ کسیز ټیم د جوړولو خبر ورکړ. د سپتمبر پر ۵ نېټه، د ټیم د غړو شمیر ۲۱ هغو ته زیات شو چې ټول یې نارینه دي او د ټیم رهبري مولوي عبد الحکیم ته ولیږدول شوه. د سپتمبر په لومړیو کې، طالبانو د افغان دولت له خوا په قطر کې د شپږو بندیان په کور کې د بند له لیږد سره او د دولت د ۲۲ بندیانو د خوشې کولو یا یې په اړه توضحیات ورکولو سره توافق وکړ، کومه چاره چې د خبرو اترو له پیلیدو په مخکې اونۍ کې بشپړه شوه.

۹.  د افغانستان د سولې مذاکرات د سپتمبر پر ۱۲ نېټه په دوحه کې پیل شول. د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو پلاوو او د نړیوالې ټولنې استازو په دغو مراسمو کې ګډون کړی و چې د قطر د صدر اعظم د مرستیال او بهرنیو چارو د وزیر محمد بن عبد الرحمن بن جاسم آل ثاني، ښاغلي عبد الله، ښاغلي برادر او د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر مایکل آر پمپیو له خوا پرانیستل شول. دغه راز دغو مراسمو ته د ۱۳ هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو، د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسي لپاره د اروپایي اتحادیې د عالي استازي جوسیپ بوریل، د شمالي انتلانتیک د تړون د سازمان د سرمنشي جنز ستولتنبرګ، د اسلامي همکاریو د سازمان د عمومي منشي یوسف العثیمین او د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا آنلاین ویناوې وشوې. تر دغو مراسمو وروسته دواړو خواوو د مذاکراتو د طرز العمل او نورو عملي موضوعاتو په اړه د بحث لپاره د تماس ګروپونه رامنځته کړل. د سپتمبر او اکتوبر په میاشتو کې د دواړو خواوو ترمنځ د ترسره شویو ناستو پرمهال، دواړو خواوو د هغه اسلامي فقهي مکتب په اړه چې د شخړې د حل د یوه میکانیزم په څېر باید ورته رجوع وشي او همدارنګه د مذاکراتو لپاره د فرضي بنسټ چې طالبانو یې په اړه ټینګار کاوه چې باید له متحده ایالاتو سره د فبروري د ۲۹ نېټې تړون و اوسي، په اړه مباحثې ترسره شوې. د مذاکراتو پر اجنډا لا تر اوسه توافق نه دی شوی.

۱۰.  د اکتوبر له ۵ تر ۶ پورې له دوحې څخه د خپلې لیدنې پرمهال، ښاغلي غني د قطر له امیر شیخ تمیم بن حماد آل ثاني او د قطر له صدر اعظم شیخ خالد بن خلیفه بن عبد العزیز آل ثاني سره د سولې د روانو هڅو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. ښاغلي عبد الله د افغان سولې پروسې لپاره د سیمه ییز ملاتړ لټه جاري ساتلې او په دې لړ کې یې راتلونکې سفرونه ترسره کړي: د سپتمبر له ۲۸ څخه تر ۳۰ پورې اسلام اباد ته سفر څو د پاکستان له صدر اعظم عمران خان، ښاغلي قریشي او ښاغلي صادق سره ووینې؛ د اکتوبر له ۶ تر ۱۰ پورې ډهلي ته سفر څو د هندوستان له صدر اعظم نریندرا مودي، د بهرنیو چارو له وزیر سوبرا مینیام جی شنکر سره ووینې؛ د اکتوبر له ۱۸ تر ۲۰ پورې له تهران څخه لیدنه څو د ایران ولسمشر حسن روحاني، د بهرنیو چارو له وزیر محمد جواد ظریف سره وګوري؛ او نومبر له ۱۰ تر ۱۱ پورې له ازبکستان څخه لیدنه څو له ولسمشر شوکت میرضیایوف، د بهرنیو چارو له وزیر عبد العزیز کاملوف، نورو چارواکو او د ازبکستان له ستر مفتي او د مسلمانانو د هیئت له مشر عثمان خان عالموف سره وګوري. په ورته وخت کې سیاسي اپوزیسون له سیمه ییزو فعالینو سره خپل تعامل جاري ساتلی: د حزب اسلامي ګلبدین حکمتیار ډلې مشر له پاکستان څخه او مارشال عبد الرشید وستم له ترکیې او هندوستان څخه لیدنې ترسره کړې.

۱۱.  نړیوالو او سیمه ییزو شریکبانو د سولې د مذاکراتو په ملاتړ خپل تعامل چټک کړی. له جرمني، اندونیزیا، ناروې او ازبکستان څخه د کوربه هیواد د ملاتړ ګروپ استازي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) له استازو سره په دوحه کې سره راغونډ شول. نړیوالو ځانګړو استازو او سیمه ییزو شریکبانو د مذاکراتو په ملاتړ خپل تعامل جاري ساتلی. د افغانستان د سولې او پخلاینې لپاره د متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د پاکستان د پوځ له مشر جنرال قمر جاوید باجوه او ښاغلي صادق سره د سپتمبر پر ۱۴ نېټه په اسلام اباد؛ له ښاغلي جی شنکر او د هندوستان د ملي امنیت له سلاکار آجیت دووال سره د سپتمبر پر ۱۵ نېټه په ډهلي؛ او د تاجکستان له ولسمشر امام علي رحمان سره د اکتوبر پر ۲ نېټه په دوشنبې کې ولیدل. د سپتمبر پر ۱۶ نېټه د ناروې د بهرنیو چارو وزیر انې ایرکسین سوراید د انټرنټي تماس له لارې له ښاغلي برادر سره ولیدل څو د مذاکراتو په اړه خبرې اترې ترسره کړي او د جګړې قربانیانو، ښځو، قومي لږکیو او کلیوالي ټولنو په درلودو سره یې د سولې د یوې ټول شموله پروسې غوښتنه وکړه. د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي لیو جین د سپتمبر پر ۱۹ نېټه په دوحه کې له ښاغلي برادر سره ولیدل؛ دغه لیدنه له ښاغلي صادق سره په اسلام اباد کې د سپتمبر پر ۲۴ نېټه د غونډې په تعقیب رامنځ ته شوه په کومه کې چې ښاغلي لیو د افغان د سولې پروسې لپاره د چین ملاتړ په ډاګه کړ. د نومبر پر ۳ نېټه، د افغانستان لپاره د هندوستان، د ایران د اسلامي جمهوریت او د روسیې فدراتیف ځانګړو استازو په مسکو کې یوه درې اړخیزه ناسته ترسره کړه څو په

افغانستان کې د سولې او ټیکاو لپاره د ملاتړ غږ پورته کړي. د نومبر پر ۷ نېټه، د افغانستان د ۲۰۲۰ کال د کنفرانس لپاره د فنلنډ ځانګړي استازي جاني تالاس په دوحه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو له مذاکره کوونکو ټیمونو سره جلا جلا لیدنه ترسره کړه، څو هغوی ته د راتلونکي کنفرانس په اړه معلومات وړاندې کړي.

۱۲. په داسې حال کې چې تاوتریخوالی د زیاتیدو په حالت کې دی، په تاوتریخوالي کې د کموالي د رامنځ ته کیدو هڅې جارې وې. ښاغلي خلیلزاد په اکتوبر او نومبر کې په مختلفو مناسباتو کې له ښاغلي برادر، ښاغلي حکیم او نورو طالب چارواکو سره لیدلي څو د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د تړون د رعایت کولو په اړه خبرې اترې ترسره کړي او د اکتوبر پر ۱۵ نېټه یې اعلان وکړ چې پر"بیا تنظیم کیدو" موافقه وشوه چې موخه یې د نظامي فعالیت او تاوتریخوالي راکمول او له تړون سره د موافقت پیاوړی کول دي. ښاغلي خلیلزاد دغه راز د افغانستان اسلامي جمهوریت له مذاکره کوونکي ټیم سره په دوحه کې ناستې ترسره کړې.

۱۳. د ښځو سازمانونو د افغان ښځو له شبکې او د سولې لپاره د ښځو ایتلاف "زموږ غږ، زموږ راتلونکی" عامه مدافعه جارې ساتلې او د اګست پر ۱۳ نېټه یې طالبانو ته د ښځو د حقونو په اړه د یاد تحریک د دریځ د ابهام په اړه یو پرانیستی لیک خپور کړ. د اګست پر ۱۵ نېټه، د ښځو شبکو په ۱۵ ولایتونو کې هم مهاله غونډې ترسره کړې او یوه اعلامیه یې خپره کړه چې د ښاري او کلیوالي ښځو اندېښنې او توقعات رانغاړل او د سملاسي اوربند غوښتنه یې وکړه. د سپتمبر پر ۸ نېټه، د افغان میرمنو یو شمیر ادارو جرمني، اندنیزیا، ناروې، قطر، متحده ایالاتو او ازبکستان ته لیکونه واستول چې د سولې د خبرو اترو په زمینه کې یې بشري حقونو، د ښځو حقونو، سیاسي ګډون او بې وسلې کولو ته د پاملرنې په جذبولو کې د هغوی د ملاتړ غوښتنه کوله. د اکتوبر پر ۱۳ نېټه، د افغان میرمنو یو شمیر شبکو د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر ته یو پرانیستي لیک واستوه په کوم کې چې یې د سولې د بین الافغاني خبرو اترو په اړه اندېښنه څرګنده کړې او د عدالت، او د سولې د پایښت لرونکې او ټول شموله پروسې د ملاتړ غوښتنه کول.

۱۴. همدارنګه د سولې په پروسه کې د مدني ټولنې ګډون او تعامل زیات شوی. د سپتمبر پر ۳۰ نېټه د کډوالو هزاره توکمه ګروپونو د یوې بیانې په خپرولو سره د سولې د بین الافغاني خبرو اترو هرکلی وکړ او د سولې د یوې داسې ټول شموله پروسې غوښتنه یې وکړه چې په راتلونکي سیاسي نظام کې د هزاره توکمو او نورو قومي ګروپونو ګډون تضمینوي. د سولې لپاره د دولت وزارت د مختلفو شریکانو د ګروپونو لپاره د پوهاوي/رسیدنې ۲۰ نوښتونه تنظیم کړي وو، لکه د اکتوبر پر ۱۳ او ۲۸ نېټه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکره کوونکې ټیم او د جګړې د قربانیانو او د ښځو د ګروپ ترمنځ د آنلاین سلا مشورو ترسره کول. د اکتوبر پر ۲۵ نېټه، د افغانستان د علماوو شورا د شا و خوا ۲۰۰۰ عالمانو چې د اهل تسنن او اهل تشیع وګړو استازیتوب یې کاوه، یوه غونډه ترسره کړې چې د افغان سولې له پروسې څخه یې خپل ملاتړ په ډاګه کاوه.

۱۵. یوناما له ځایي چارواکو او مدني ټولنې سره په ځایي کچه د شخړو د حل او سولې رامنځ ته کولو هڅې جاري ساتلې. د کوویډ-۱۹ اړوند محدودیتونو په زمینه کې، ماموریت د سولې ځایي اته نوښتونه پیل کړي په داسې حال کې چې له خپلو ملي شریکانو سره د ښځو، سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړه د ملي ستراتیژۍ په پلي کولو کې خپله همغږي جاري ساتلې. په مرکزي سیمو کې، نوموړي اداري د ښځو او د ښېرو ولایتونو ځوانو استازو ته یو پلاټفورم/غونډ ځای برابر کړي څو د افغان سولې له جوړښتونو سره تعامل او ګډون وکړي چې د مذاکراتو په اړه مباحثې ترسره کړي. د اکتوبر پر ۱ او ۲ نېټه، ماموریت د نږدې ۱۰۰ ښځینه دیني عالمانو، د ټولنې د استازو او له ټول افغانستان څخه د فعالینو له یوې غونډې مرسته وکړه څو د اسلام په رڼا کې د ښځو د حقونو او سیاسي ګډون په اړه مباحثې ترسره کړي. په اکتوبر کې ګډونوالو په یو لړ راډیو خپرونو کې چې د یوناما له خوا یې په اتو ولایتونو کې ملاتړ

شوی و، په سوله او امنیت په برخو کې د ښځو د ګډون د شمولیت پر اهمیت بحث وشو او پر دې ټینګار وشو چې ښځې د سولې مهارت لرونکې استازې، با تجربه مذاکره کوونې دې او د راتلونکې هر ډول سیاسي حل د بریا لپاره کلیدي ګڼل کیږي. ماموریت د نړیوالو ډونرانو له خوا دغو او نورو اړوندو پروګرامونو او فعالیتونو لپاره ملاتړ بسیج کړی.

۱۶. د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه د شلمې کلیزې د لمانځلو په مناسبت د ملګرو ملتونو د جنډر د برابرۍ او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان (UN-Women) او یوناما په افغانستان کې د ښځو د حقونو په اړه د شل کلنې سختې مبارزې په پایله کې د ترلاسه شوي پرمختګ په اړه د اکتوبر پر ۲۶ نېټه یو د لوړې کچې ډیالوګ تنظیم کړی و. لومړۍ میرمن رولا غني د اصلي او کلیدي وینا په وړاندې کولو سره په مرکزي او ولایتي کچو د سولې او امنیت په برخه کې د ښځو پر رول ټینګار وکړ. د مدني ټولنې د سازمانونو افغان ښځینه غړو یو ځل بیا د دې یادونه وکړه چې د ښځو د فعال ګډون پرته پایښت لرونکې سوله نه شي تر لاسه کیدای. د اکتوبر پر ۲۹ نېټه، د ښځو او ماشومانو د حقوقي څېړنیز بنسټ اجرائیه رئیسې زرقا یفتلي، چې همدارنګه د یوه افغان نا دولتي سازمان د کاري ګروپ استازیتوب هم کوي، امنیت شورا ته معلومات ورکړل چې له نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو څخه یې د سیاسي احتساب غوښتنه کوله، څو ډاډمن کړای شي چې د ښځو د حقونو او ګډون په برخه کې تر لاسه شوې لاسته راوړنې د سولې په خبرو کې د جوړجاړي ښکار نه ګرځي. د اکتوبر پر ۳۱ نېټه د افغان میرمنو د سفیرانو د ګروپ ملګرو په کابل کې یوه اعلامیه خپره کړه، ترڅو د افغان ښځینه سوله جوړوونکو لاسته راوړنې ولمانځي او د هغوی له راتلونکې سره یې د خپل ملاتړ ډاډ ورکړ.

۱۷. د ملګرو ملتونو د پنځه اویایمې کلیزې د لمانځلو لپاره د یوناما له خوا ملاتړ شویو ډیالوګونو د هغو لارو چارو په اړه د نظریو د راپارولو یو فرصت برابر کړ څو په ګډه یوه غوره راتلونکې تشکیل کړي. د سپتمبر په میاشت کې د کابل د ښاروالۍ په مختلفو حوزو کې د ښځو او معلولیت لرونکو اشخاصو په ګډون ځوانو خلکو په بحثونو کې له تاوتریخوالي او تبعیض څخه د یوې پاکې راتلونکې په اړه خپل لید لوری شریک کړل، په کومه کې چې ټول خلک کولی شي خپل بشپړ پوتنشیال پوره کړي.

**ب. امنیت**

۱۸. په افغانستان کې امنیتي وضعیت په لوړه کچه بې ټیکاو او تاوتریخجن دی. د جولای له ۱۳ څخه د نومبر تر ۱۲ پورې، ملګرو ملتونو د۱۰۴۳۹ امنیتي پېښې ثبتې کړې چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۱۸ سلنه زیاتوالی وړاندې کوي. وسله والې نښتې د ټولو امنیتي پیښو ۶۳ سلنه جوړوي. ۶۵۹۹ وسله والې پیښې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۳۸ سلنه زیاتوالي وړاندې کوي. دولت ضد عناصرو د ټولو امنیتي پیښو ۹۲ سلنه او د وسله والو نښتو ۹۵ سلنه ترسره کړي. د هوايي بریدونو ټولټال شمیر له ۶۸۹ څخه ۴۱۶ ته راټیټ شوی. د ټولټال ۳۸۹ وژنو/تروړونو راپور ورکړل شوي چې په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله ۲۱ سلنه زیاتوالي په ډاګه کې. د وژنو/ترورنو په اهدافو کې د امنیتي ځواکونو غړي، دولتي چارواکي او ملکي وګړي، او پر طالبانو نیوکه کوونکې دیني مشران شامل دي. د اکتوبر پر ۲۴ نېټه، د کورنیو چارو سرپرست وزیر مسعود اندرابي خبر ورکړ چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو ابو محسن المصري (همدارنګه په حسام عبد الرؤوف مشهور) چې په هندي شبه قاره کې د القاعده مخکښ قوماندان ګڼل کیږي، وژلی.

۱۹. د امنیتي پېښو تر ټولو لوړ شمیر د هیواد په جنوبي سیمو، په تعقیب یې په شمالي او ختیځو سیمو کې ثبت شوی. په دغو سیمو کې ټولې پیښې یو ځای په هیواد کې د ټولو امنیتي پېښو ۶۲ سلنه جوړوي، چې په کندهار، هلمند، ننګرهار او بلخ ولایتونو کې تر ټولو زیاتې امنیتي پېښې ثبتې شوي. طالبانو په ټول هیواد کې د ولسوالیو پر اداري مرکزونو

ګڼ شمیر بریدونه ترسره کړي او د کندز، لښکرګاه او ترینکوټ په څېر پر ولایتي مرکزونو یې فشار زیات کړی. د راپوررونو له مخې د جولای له نیمه یې راهیسې د اکتوبر تر پای د وسله والو نښتو کچې په ثابت ډول زیاتې شوي. اکتوبر هغه میاشت ګڼل کیږي په کومه کې چې له هغې مودې راهیسې چې ملګرو ملتونو په ۲۰۰۷ کال د ریکارډ ساتل پیل کړي، د وسله والو نښتو تر ټولو لوړ شمیر ثبت شوی.

۲۰. د دولت ضد عناصرو له خوا په ټول هیواد کې د لوړې کچې بریدونو دوام درلود، چې د ۳۰ موټر بم ځانمرګو بریدونو په ګډون کومو چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه او یوه بل یې د لغمان د والي کاروان په نښه کړی و، ۴۲ ځانمرګي بریدونه ثبت شوي.

۲۱. د راپور ورکولو په موده کې د کابل ښار د لوړې کچې د دریو بریدونو او د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د چاودنو د ۶۵ پېښو شاهد و. د دغو ډله ییزو بریدونو اهداف ملکي وګړي وو، په داسې حال کې چې د لاس جوړ چاودیدونکو توکو د بریدونو ۸۲ سلنه یې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه یا دولتي ادارې په نښه کړي.

۲۲. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله په ۲۰۲۰ کال کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب یا یې د هغوي له خوا د مسوولیت منل شویو پېښو شمیر کم و (۱۱ د ۳۴۳ په پرتله). د اګست پر ۱۸ نېټه په کابل کې نوموړې ډلې د هغه راکیټي برید مسوولیت پر غاړه واخیست کوم چې د خپلواکۍ ورځې پر مهال د ښاغلي غني له خوا د وینا پر مهال ولسمشریزه ماڼۍ په نښه کړې وه. د راپوررونو له مخې په کابل کې له دوو موقعیتونو څخه ټولټال ۱۴ راکیټونه توغول شوي وو چې په دغه برید کې درې کسان وژل شوي. د اګست پر ۲۸ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې په هرات ښار کې د یوه برید مسوولیت پر غاړه واخیست چې د آیسکریمو په یوه دوکان کې د چسپکي ماین له امله رامنځ ته شوی و. د اکتوبر پر ۲۴ نېټه نوموړې ډلې په کابل کې پر یوه تعلیمي مرکز د برید مسوولیت ومانه چې له امله یې لږ تر لږه ۲۵ وګړي ووژل شول او ۵۲ نور ټپي شول. د نومبر پر ۲ نېټه، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر کابل پوهنتون د برید مسوولیت پر غاړه واخیست چې له امله یې ۲۲ کسان ووژل شول او ۲۴ نور ټپیان شول.

۲۳. په عام ډول په امنیتي سکتور کې د اصلاحاتو په تړاو پرمختګ سوکه و چې د ځایي ساتندویه ځواک پر بیا جوړولو او په ښاري سیمو کې د امنیتي مدیریت پر غښتلي کولو متمرکز و. د افغان سیمه ییزو پولیسو لپاره نړیوال تمویل د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر کې پای ته ورسید؛ داسې تمه کیږي چې د ۲۰۲۰ کال تر پای به د دغو ځواکونو دوه په درې برخه په افغان ملي پولیسو او افغان ملي سیمه ییزې اوردو کې مدغم شي. د امنیتي میثاق پلان چې د ۲۰۲۰ کال په جولای کې د دولت او ځایي ټولنو له خوا پیل شو، په پارلمان کې له هغو اندېښنو سره مخ شو چې ټولنې د دې لپاره بسیج شوې څو ملي امنیتي ځواکونه غښتلي شي، خو په امنیت کې کوم محسوس ښه والی نه تر سترګو کیږي. په ځایي کچه، د ولسوالیو ۱۰۰ نوي امنیه قوماندان چې ټول یې نارینه وو، ټاکل شوي.

۲۴. د راپور ورکولو په موده کې د ملګرو ملتونو د کارمندانو په ضد د تهدیدونو د ۱۱، د ۱۹ جنایي پیښو په ګډون، ۳۴ پېښې ترسره شوي. د ملګرو ملتونو یو کارمند څوک چې د دولت ضد عناصرو له خوا د سپتمبر پر ۱۳ تښتول شوی و، د سپتمبر پر ۱۷ نېټه بیرته خوشې کړای شو.

### ج. سیمه ییزه همکاري

۲۵.	د اګست پر ۲۰ نېټه د افغانستان د بهرنيو چارو سر پرست وزير محمد حنيف اتمر د چين د دولت مشاور او د بهرنيو چارو له وزير وانګ ايي، ښاغلي شنکر او ښاغلي ظريف سره آنلاين سلا مشورې ترسره کړې څو د سولې، اتصال او دوه اړخيزو اړيکو لپاره د سيمه ييز او نړيوال ملاتړ په اړه خبرې اترې ترسره کړي. چين، هندوستان او د ايران اسلامي جمهوريت د مشورتي لويې جرګې، د افغانستان د سولې له مذاکراتو او د تيرو ۱۹ کلونو د لاسته راوړنو د ساتلو لپاره خپل ملاتړ په ډاګه کړ.

۲۶.	د اګست پر ۲۵ نېټه، د يوه خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د سيمه ييز امنيت او همکارۍ په اړه د آسيا زړه-استانبول پروسې د لوړ پوړو چارواکو د ۲۰۲۰ کال ناسته ترسره شوه چې د افغانستان او تاجکستان له خوا يې ګډه مشري کيده. د ناستې ګډونوالو يو ځل بيا د سولې د يوې ټول شموله پروسې لپاره د ملاتړ يادونه وکړه. د کوويډ-۱۹ د محدوديتونو له امله، د اوو باور جوړونې د تدابيرو له مخې زيات شمير پلان شوي فعاليتونه له ځنډ سره مخ شوي.

۲۷.	د اګست پر ۳۱ نېټه، د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان-پاکستان د عمل پلان د بيا کتنې دويمه ناسته په کابل کې ترسره شوه، چې مشري يې د افغانستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير ميرويس ناب او د پاکستان د بهرنيو چارو مرستيال وزير سهيل محمود له خوا کيده. تر ناستې وروسته، د پاکستان حکومت له افغانستان سره د ويزې د پاليسې د اسانولو اعلان وکړ څو د هغو افغانانو لپاره د اوږد مهالې د کثير المسافرت ويزو د صدور زمينه برابره کړي څوک چې د طبي درملنې، کورنيو چارو، سوداګرۍ، تعليمي او داسې نورو موخو لپاره له پاکستان څخه ليدنه کوي.

۲۸.	د سيمه اقتصاد او زيربنايي اتصال د غښتلي کولو په موخه هڅو دوام درلود. د اګست پر ۲۸ او ۲۹ نېټه، ښاغلي اتمر تاشکند ته سفر وکړ چيرې چې د ازبکستان له صدر اعظم عبد الله اريپف، د ملي امنيت سلاکار ويکتور محمدوف او ښاغلي کاملوف سره وليدل. ښاغلي کاملوف د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالیکت د سولې له پروسې سره د هغه د هيواد پر ملاتړ ټينګار وکړ. دواړو پلاوو په سوداګرۍ او ترانسپورت کې د همکارۍ د پراخولو اهميت په ډاګه کړ. د اګست پر ۲۸ نېټه د افغانستان د برښنا کمپنۍ د افغانستان برښنا شرکت او د ازبکستان د انرژۍ وزارت د برښنا د ليږد ۱۰ کلن تړون لاسليک کړ. د اکتوبر له ۲۰ تر ۲۲ نېټې پورې له کابل څخه د ليدنې پرمهال ازبک پلاوي او افغان همغاړو د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د لا زياتې غښتلتيا لپاره د همکارۍ يو شمير تړونونه لاسليک کړل.

۲۹.	افغانستان او د ايران اسلامي جمهوريت د اقتصادي او انرژۍ همکارۍ د ښه کولو لپاره د اړيکو پياوړي کول جاري ساتلي. په يوه ناسته کې چې د سپتمبر پر ۶ نېټه په تهران کې ترسره شوه، د ترانسپورت په اړه د افغانستان-ايران ګډې کميټې د هغو لارو چارو په اړه خبرې اترې ترسره کړې څو وکولی شي د ترانسپورت او ترانزيت موثريت لا ښه کړي. د سپتمبر له ۲۲ تر ۲۵ نېټې پورې، د ايران اسلامي جمهوريت په کابل کې يو درې ورځنی تخنيکي نندارتون ترسره کړ چې د برښنا، انرژۍ، ټيلي کمونيکشن او انجنيرۍ په برخو کې يې پرمختللې ټکنالوژۍ نندارې ته وړاندې کوله. د دغې پېښې په څنډو کې افغان او ايراني چارواکو د برښنا د زيربنا د پراختيا په اړه خبرې اترې ترسره کړې څو د دواړو هيوادو د انرژۍ همکاري لا پسې غښتلې شي.

۳۰.	د سپتمبر پر ۱۷ او ۱۸ نېټه، ښاغلي اتمر له دوشنبې څخه ليدنه ترسره کړه، چيرې چې هغه له ښاغلي رحمان، له صدر اعظم قاهر رسول زاده، د بهرنيو چارو له وزير سراج الدين مهر الدين او نورو لوړ پوړو چارواکو سره وليدل. مباحثې د سوداګرۍ، اقتصاد، کلتور او بشري برخو کې د همکارۍ پر غښتلي کولو؛ د سيمه ييزو زيربنايي پروژو پر ګډ تطبيق؛ او د دوه اړخيزه ستراتيژيکې همکارۍ د تړون پر طرح کولو متمرکزې وې. دواړو خواوو دغه راز د هغې اړتيا په اړه خبرې اترې ترسره کړې چې امنيتي او استخباراتي همکاري غښتلې کړي، چې موخه يې د پولو خوندي کول او له تروريزم او

تنظیم شویو جرمونو سره مبارزه کول دي.

۳۱. د سپتمبر پر ۳۰ نېټه، افغانستان او ترکمنستان په کابل کې درې د پوهاوي یاداښتونه او د اقتصادي همکارۍ یو تړون لاسلیک کړل. دغه اسناد د هرات ښار ته د ټاپي پروژې د ګازو نل لیکې د غځولو پلان، له ترکمنستان څخه هرات ته د ۵۰۰ میګاواټه د برښنا د لیږد د مزي غځول او د مخابراتي اړیکو او د فایبر نوري شبکو پراخول تر پوښښ لاندې نیسي.

۳۲. د اکتوبر پر ۸ نېټه، ښاغلي اتمر، د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر راشد میریدوف او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال ډیوډ هالي په ګډه د افغانستان-ترکمنستان-متحده ایالاتو د درې اړخیزې غونډې مشري وکړه کوم چې په آنلاین ډول ترسره شوه. په یوه ګډه اعلامیه کې ګډونوال د سیمه ییز امنیت د همکارۍ د ښه کولو ژمنه وکړه څو د تروریزم، د نشه یي توکو قاچاق او د نا منظمې کډوالۍ موضوعاتو ته رسیدګي وکړي؛ د خلکو ترمنځ اړیکه زیاتې کړي او مساواتو او د ښځو شمولیت ته وده ورکړي؛ او سوداګري، سیمه ییز اتصال او بشري مشارکت پراخ کړي.

۳۳. د اکتوبر پر ۲۶ او ۲۷، د پاکستان د ملي اسامبلې رئیس اسد قیصر د "پاکستان-افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې غونډ ځای" تر عنوان لاندې یوه سیمنار تنظیم کړی و چې ښاغلي خان، د افغانستان د ولسي جرګې رئیس رحمان رحماني او د تجارت د سرپرست وزیر نثار غوریاني په ګډون، ۱۷ کسیز افغان پلاوي په کې ګډون کړی و. د دواړو هیوادو قانون جوړونکو پریکړه وکړه څو یو کاري څواک رامنځ ته کړي چې د افغانستان-پاکستان د ترانزیت سوداګرۍ تړون په اړه د دویم ځل مذاکرات وڅاري، چې د اعتبار موده یې په ۲۰۲۱ کال کې پای ته رسیږي.

۳۴. یوناما د افغانستان د شپږو ګاونډیو هیوادونو د ډیپلوماتیکو استازو یو کاري ګروپ رامنځ ته کړي څو د سوداګرۍ او ترانزیت، د زیربنایي اتصال، له نشه يي توکو سره د مبارزې، د خلکو د خوځښت او پوهې د لیږد په اړه خبرې اترې ترسره کړي. ماموریت په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له شریکانو او ګاونډیو هیوادونو سره له نږدې کار کوي څو د موجوده فارمټونو لکه د اسیا زړه- استانبول پروسه او د افغانستان په اړه د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس سره مرسته وکړي. سربیره پر دې، د افغانستان لپاره زما ځانګړې استازې د ایران له اسلامي جمهوري او پاکستان څخه لیدنه ترسره کړې څو د سولې او سیمه ییزې همکارۍ په اړه د سیمې له تعامل او ګډون سره ملاتړ وکړي.

## دریېم: بشري حقونه

۳۵. یوناما په افغانستان کې د جګړې له امله ملکي وګړو د زیان د لوړو کچو مستندول جاري ساتلي. د اکتوبر پر ۲۷ نېټه، ماموریت د دریمې ربع راپور خپور کړ چې د جنوري له ۱ څخه د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې یې ۵۹۳۹ ملکي تلفات (د ۲۵۱ ښځو او ۵۵۳ ماشومانو په ګډون ۲۱۱۷ مړه؛ او د ۴۹۵ ښځو او ۱۲۹۵ ماشومانو په ګډون ۳۸۲۲ ټپیان) مستند کړي. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۳۰ سلنه کمواالی په عمده ډول د دولت ضد عناصرو له خوا د ترسره شویو ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو او د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د کموالي په پایله کې رامنځ ته شوی. د ځمکنیو نښتو له امله ملکي تلفات په ورته کچو پاتې دي او د طالبانو د فشاري ماینونو او افغان هوایي ځواک د هوایي بریدونو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال په پرتله لوړ شوي. د افغانستان د سولې مذاکرات لا تر دې دمه د ملکي تلفاتو په سوکه کولو او کمولو کې پاتې راغلي؛ د سپتمبر پر ۱۲ نېټه د مذکراتو له پیل راهیسې او د اکتوبر تر پای پورې، یوناما د ملکي تلفاتو په شمیر کې کموالی نه دی مستند کړی.

۳۶. دولت ضد عناصر لا اوس هم د زیاترو ملکي تلفاتو د اړولو لامل دي (۵۸ سلنه)، چې زیات هغه یې طالبانو (۴۵ سلنه)، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې (۷ سلنه) او پاتې نور هغه یې نا معلوماتو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي. دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو له یوې ربع څخه د زیاتې هغه مسوول دي (۲۸ سلنه) چې افغان ملي امنیتي ځواکونو د ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه، نړیوالو نظامي ځواکونو ۲ سلنه، او دولت پلوه وسله والو ډلو او نا معلومو یا ګډو دولت پلوه ځواکونو هر یوه، ۱ سلنه اړولي. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و (۳۸ سلنه) چې په تعقیب یې انتحاري او غیر انتحاري ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي (۲۹ سلنه)، هدفي وژنې (۱۶ سلنه) او هوایي بریدونه (۸ سلنه) د ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیږي.

۳۷. وسله واله جګړه لا اوس هم ماشومانو ته سخت زیان اړوي. د ۲۰۲۰ کال په دریمه ربع کې، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په ضد د سختو سرغړونو په اړه د څارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ځواک د ۹۰۸ ماشومانو (۶۳۰ هلکان، ۲۷۷ نجونې، ۱ نا معلوم جنس) ۹۵۴ سختې سرغړونې تصدیق کړې.

۳۸. هیوادني کاري ځواک د ماشومانو ۷۷۳ تلفات (۲۱۰ مړه (۶۴ نجونې او ۱۴۶ هلکان) او ۵۶۳ ټپیان (۲۰۶ نجونې، ۳۵۶ هلکان، ۱ نا معلوم جنس)) تصدیق کړي. دولت ضد عناصر د دولت پلوه ځواکونو په څیر د ماشومانو د تلفاتو د عین شمیر مسوول وو (هر لوری ۳۲۰). ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوی چې د ماشومانو ۴۴۸ تلفات (۱۰۲ مړه او ۳۴۶ ټپیان) یې اړولي چې د عمومي ټولټال تخمیني ۵۸ سلنه جوړوي. کاري ځواک د تیرې ربع پر مهال د تصدیق شویو ۱۹ ماشومانو په پرتله، د راپور ورکولو په موده کې د طالبانو (۱۰۸) د یوې دولت پلوه ملیشې (۷) او د افغان ملي سیمه ییزې اردو (۴) له خوا ۱۱۹ ماشومان (ټول هلکان) د جګړه ییزو او خدمتي نقشونو لپاره استخدام او کارول شوي، په تیره بیا د هیواد په شمال ختیځو او شمالي سیمو کې. هیوداني کاري ځواک دغه راز د ۱۵ ماشومانو (۱۴ هلکان، ۱ نجلۍ) تښتونه تصدیق کړې، چې ټولې هغه یې طالبانو ته منسوب شوي. اوو ماشومان خوشې شوي، دوه یې وژل شوي او پاتې شپږ یې لا اوس هم یا د هغوي حراست کې یا یې ځای ځایګی نامعلوم دی. د سپتمبر تر ۳۰ پورې، ۱۵۱ هلکان چې عمرونه یې له ۱۳ تر ۱۷ کلونو پورې د ژنکو د اصلاح په مرکزونو له شپږو تر دریو میاشتو پورې مودې لپاره ساتل شوي.

۳۹. د جولای تر ۱ او سپتمبر د ۳۰ ترمنځ، هیوادني کاري ځواک پر ښوونځیو ۲۵ بریدونه تصدیق کړي، چې د تیرې ربع په پرتله له څلور برابره زیات ګڼل کیږي. دغه بریدونه طالبانو (۱۱)، افغان ملي اردو (۶)، د ګډو دولت پلوه ځواکونو ګډو عملیاتو (۲)، نا معلومو مخالفو وسله والو ډلو (۲)، د مخالفو وسله والو ډلو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د عملیاتو پر مهال د ډزو تبادله چې یوه مشخص لوري ته نه شي منسوب کیدای (۲)، د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې (۱) او نا معلومو دولت پلوه ځواکونو (۱) ته منسوب شوي.

۴۰. د راپور ورکونې د مودې په بهیر کې، په روغتونونو د بریدونو شمیر کم شوي، چې په ترځ کې یې د روغتونونو او تر ساتنې لاندې روغتیایي پرسونل پر وړاندې ۱۳ بریدونه تایید شوي، حال دا چې د تیرې راپور ورکونې په دوره کې ۱۸ بریدونه تایید شوي و. د ۱۳ پیښو څخه، ۸ یې طالبان ته، ۱ یې د افغانستان ملي اردو ته، ۱ یې دولت پلوه ملیشوو ته، ۱ یې د هغه پیښې په تړاو وه چې داعش او د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو پکې برخه درلوده چې مسؤل اړخ یې معلومیدی نشو، ۱ یې په ګډه د افغانستان ملي اردو او نړیوالو ځواکونو ته او ۱ یې ناپیژندل شوي مرتکب ته منسوب شوي ده.

۴۱. یوناما د اګست څخه تر اکتوبر پورې، د ښځو او انجونو پروړاندې د تاوتریخوالي ۷۷ جرمونه ثبت کړي، چې

پکې د وهلو او ډبولو ۲۰ قضیې، د قتل ۱۶ قضیې، د ځورونې ۱۵ قضیې، د جنسي تیري ۷ قضیې، د مجروحیت یا معلولیت ۳ قضیې، د جبري ځان سوزولو یا ځان وژنې ۳ قضیې، د جبري ودونو ۲ پیښې او د ماشوم د واده کولو ۱ قضیه شاملې دي. ماموریت د ښځې پورې اړوند د جنسي تاوتریخوالي (جنسي تیري) ۱۰ قضیې هم مستندې کړي، چې ۶ یې د راپورونو له مخې د طالبانو د غړو لخوا ترسره شوي او ۴ نورې یې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ارتکاب شوي. د ښځو او انجونو پروړاندې د تاو تریخوالي جرمونه لاهم په واقعي بڼه ندي راپور شوي ځکه چې کلتوري خنډونه، امنیتي ګواښونه او پراخه معافیت د هغو ښځو لپاره عدالت ته د لاسرسي مخه نیسي چې د تاوتریخوالي جرمونه تجربه کوي. د راپور ورکولو د دورې په بهیر کې، یوناما د ښځو حقونو د خوندیتوب او ترویج په اړه د پوهاوي لوړولو او ظرفیت لوړونې غونډې دایر کړې، لکه په کندهار کې د ښځو پروړاندې د تاو تریخوالي د مخنیوي قانون په اړه راډیویي خپرونه، په سرپل کې د ځورونې پرضد قانون په اړه د عامه پوهاوي ورکشاپ او په پکتیکا کې د ښځو د حقونو په اړه یو راډیو پروګرام.

۴۲. د سپتمبر په ۳ نیټه، د کابینې تقنیني کمیټې د جزا کوډ په یوې مادې کې د تعدیل وړاندیز وکړ چې له مخې یې د محکمې حکم او د ښځې رضایت دواړه د بکارت د ازموینې لپاره اړین دي. یاد وړاندیز د ولسمشر د فرمان سره سم نافذ شو چې د سیپټمبر په ۲۹ نیټه په رسمي جریدې کې نشر شو. دغه تعدیل د دې عمل په بشپړ منع کولو کې پاتې راغلی، کوم چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د ښځو حقونو سازمانونو او د ښځو پروړاندې د تبعیض کمولو کمیټې یې غوښتنه کړې وه. یوناما پرته له استثناء د یاد عمل د منع کولو غوښتنې په اړه د مدني ټولنې د ښکیلتیا ملاتړ ته دوام ورکوي. د سپتمبر په ۱۷ نیټه، د ولسمشر په فرمان کې تسجیل شوې و چې په ملي پیژند پاڼو کې به د وګړو د مور نوم شامل وي، دا بدلون چې د مدني ټولنو ډلو لخوا غوښتل شوی و، پداسې حال کې چې د نوم شاملول اختیاري دې.

۴۳. د جولای د نیمایي او د سپټمبر په وروستیو کې هیڅ محبس د بندیانو یا کارمندانو ترمنځ د کووید-۱۹ کومې نوې قضیې راپور ندی ورکړی، پداسې حال کې چې محدودې ازموینې ممکن د کم راپور ورکولو سبب شوي وي. د اکتوبر په پیل کې، د هرات محبس د څو مثبتو نویو قضیو راپور ورکړ. د کووید-۱۹ د خپریدو څخه د مخنیوي په مقصد د بندیانو خوشې کول تقریباً پای ته ورسید؛ د اګست په دویمه اونۍ کې د زندانیانو د شمیر ډیریدل بیا پیل شو. د اکتوبر تر پایه پورې، نږدې دوه دریمې برخه زندانونه د خپل بشپړ ظرفیت هاخوا فعالیت درلود. داسې بریښي چې ډیری زندانونه د ناروغۍ احتمالي دوهم څپې لپاره چمتووالی نلري. په دواړو زندانونو او د ماشومانو د اصلاح په مرکزونو کې، په تکراري ډول د محلاتو غیر عفوني کول د جولای میاشتې په پرتله کم شوي، چې عمده لامل یې د ضد عفوني کولو توکو نشتوالي بلل شوې.

۴۴. په کابل کې د پل چرخي د ښځو په زندان کې، د حد څخه د زیاتو زندانیانو ساتنه دوام لري، او نږدې ۳۰۰ ماشومان د خپلو میندو سره ساتل کیږي. له ۱۰۰ څخه ډیرې ښځې د داعش سره د اړیکو لرلو په تړاو په یاد زندان کې شتون لري چې نږدې د یو کال راهیسې په توقیف کې پاتې دي چې محاکمه یې ترسره شوې نده.

۴۵. په قضایي چارواکو او هغو کسانو چې خپلواکو بنسټونو لپاره کار کوي بریدونه دوام لري. د سپتمبر په ۱۸ نیټه، دوه قاضیان په غزنی ولایت کې وتښتول شول. په بیلابیلو پیښو کې، د سپتمبر په ۹ او اکتوبر په ۴ په کابل کې درې څارنوالان وژل شوي. د اکتوبر په ۴، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون یو کمیشنر هغه وخت وژغورل شو کله چې د هغه په موټر پورې تړل شوی مقناطیسي بم وچاودید او د هغه ډرایور یې وواژه. ټولې پیښې د تحقیقاتو په انتظار دي.

۴۶. د بشري حقونو مدافعین او د رسنیو کارکونکي د امنیت له ګواښ سره لا اوس هم مخ دي. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د مدني ټولنې درې فعالان په لوګر، پکتیا او کابل ولایتونو کې د ناپیژندو کسانو لخوا وژل شوي دي.

دوه تنه نور په کابل او پکتیا ولایتونو کې ټپیان شوي دي؛ د یادو پیښو مسؤلیت هیڅ یو اړخ په غاړه ندې اخیستې. یوناما د بشري حقونو ۱۴مدافعینو پر وړاندې راپورونه ترلاسه کړي چې د نامعلومو مرتکبینو لخوا ګواښل شوي، ۱ د چاودیدونکي توکو په وسیله په نښه شوی(پرته له کومې پایلې) او ۱ د محلي چارواکو د انتقاد کولو لپاره د څارنوالانو لخوا احضار شوی. د رسنیو په اړه، یوناما په کابل او هلمند کې د مقناطیسي ماین چاودونکو توکو له امله په دوه بیلابیلو حملو کې د دوه خبریالان وژل کیدل او د یو تن ټپي کیدل ثبت کړي. یو ژورنالیست د څارنوالانو لخوا په زندان کې د ښځینه بندیانو د جنسي تیري په اړه د راپور د خپرولو له امله مربوطه څارنوالۍ ته احضار شو؛ په بغلان ولایت کې د یوه خصوصي راډیویي مرکز ته ځېرمه د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکو چاودنه تر سره شوه په کوم کې چې یاد مرکز ته یې زیان اړولی؛ یو خبریال چې په خوست ولایت کې د ملي امنیت ریاست لخوا په ټولنیزو رسنیو کې د حکومت پروړاندې د تبلیغاتو د خپرولو په تور نیول شوی؛ او دوه ژورنالیستان (یو سړی او یوه ښځه) د طالبانو لخوا ګواښل شوي دي. خبریالانو یوناما ته د نا امنۍ د زیاتیدونکي احساس راپور ورکړی، په ځانګړي توګه د نومبر په میاشت کې د هغوی د همکارانو د وژنې له امله او د اکتوبر په میاشت کې د ولسمشر د لومړي مرستیال د څرګندونو له امله چې د ملکي تلفاتو په اړه راپور ورکول ممکن له قانوني اقدام سره مخ شي.

۴۷. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د سولې، بشري حقونو او قرباني محور عدالت پورې اړوند د قربانیانو حقونو په شمول په مختلفو مسایلو بوخت و چې د یوناما او د سیاسي او سولې جوړونې چارو ریاست د منځګړیتوب ملاتړ ځانګې لخوا، یاد کمیسیون سره تخنیکي مرستې ترسره شوې. د سپتمبر په ۱۲، یاد کمیسون د افغانستان د سولې خبرو اترو له پیل څخه هرکلی وکړ، دواړه خواوې یې وهڅولې چې خبرو اترو لپاره د لارښود پر یو لړ اصولو موافقه وکړي، لکه، یادې خبرې او اترې باید ټولشموله اوسي او د قربانیانو حقونه په پام کې ونیسي. یاد کمیسیون د اوربند، د ښځو حقونو او قرباني محور عدالت لپاره خپلې دادخواهې ته دوام ورکړ.

## څلورم. د پرمختیایي مرستو همغږي

۴۸. د افغانستان، فنلینډ او ملګرو ملتونو لخوا د ۲۰۲۰ کال کنفرانس د نومبر په ۲۳ او ۲۴ کې دایر شو، په کوم کې چې د ۶۰ څخه د زیاتو هیوادونو، او شاوخوا ۳۰ نړیوال سازمانونو، او د مدني ټولنې ډلو استازي راټول کړل چې ټولو په آنلاین بڼه په یاد کنفرانس کې برخه واخیسته. په هغه اعلامیه کې چې تصویب شوه، برخه اخیستونکو د ښځو، ځوانانو او همدارنګه قومي، مذهبي او نورو لږکیو په ګډون سره د سمدستي، دایمي او هراړخیز اوربند او د سولې معنی لرونکې پروسې غوښتنه وکړه. ګډونوالو د یو خپلواک، متحد، ډیموکراتیک او سوله ایز افغانستان د ځان بسیاینې په موخه د یاد هیواد د پیاوړي کولو لپاره نوې مشارکت تایید کړ، او د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي چوکاټ او د افغانستان د مشارکت د نوي چوکاټ هرکلی یې وکړ. تمویل کونکي د راتلونکي څلورمي دورې ۲۰۲۱-۲۰۲۴ لومړي کال لپاره لږترلږه د ۳.۳ ملیاردو ډالرو ژمنه وکړه چې تمه کیږي کلنۍ ژمنې به په هماغه کچه به هر کال کې پاتې شي.

۴۹. د نومبر په ۲۳ نیټه، په درې اړخیزو غونډو کې، د تلپاتې سولې جوړونې په برخو کې د افغانستان لپاره کلیدي ننګونې او لاسته راوړنې تر بحث لاندې ونیول شوې، چې د بشري حقونو، د ښځو برخه اخیستنه، راستنیدونکو کډوالو او راستنیدونکو ادغام، له اداري فساد سره مبارزه، اقتصادي لومړیتوبونه او د مرستو اغیزمنتوب باندې یې تمرکز درلود. د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري دویم چوکاټ د ۲۰۲۵–۲۰۲۱ مودې لپاره د پراختیا په موخه لید، ستراتیژي او پلانونه او د دوامدارو پراختیایي اهدافو لاسته راوړنې لپاره چې شاوخوا په درې ستنو کې تنظیم شوي لکه: د سولې جوړونه، دولت جوړونه او د بازار جوړول، وړاندې کوي. په یاد کنفرانس کې د لوړې کچې موضوعاتي ناستې هم شاملې

وي. د نومبر په ۱۹، ملګرو ملتونو او نورډیک هیوادونو د "سولې جوړونکو څخه تر مذاکره کونکو پورې: افغان ښځو د سولې انګېرنه" تر عنوان لاندې یوه حاشیوي ناسته جوړه کړه. ویناوالو د ښځو د برخه اخیستنې دوام او پیاوړتیا او د امنیت او خوندیتوب اندیښنو په حل کولو ټینګار وکړ.

۵۰. پداسې حال کې چې د کنفرانس دمخه په حکومت د اداري فساد پروړاندې مبارزې هڅو ته وده ورکولو لپاره فشار ډیر زیات شوی و، خو ډیرې لږې محسوسې پایلې یې درلودې. د سپتمبر په ۱۹، د ولسمشر په دفتر کې د اداري فساد سره د مبارزې ځانګړې سکرتریت د یوناما او نړیوالو همکارانو څخه غوښتنه وکړه چې د حکومت لخوا د فساد سره د مبارزې د اصلاحاتو د سټراټیژیک سند په اړه چې د سپتمبر په ۹ نیټه خپور شو، خپل نظرونه وړاندې کړي، کوم چې د ۲۰۱۷کال د اصلاحاتو ستراتیژي پر ځای به عملي کیږي. پداسې حال کې چې د دې هڅې هرکلی کوي، نړیوالو همکارانو ټینګار وکړ چې د ۲۰۲۰ کال کې د یوناما اداري فساد ضد راپور سپارښتنو سره سم، د اوږد مهاله اصلاحاتو ریښتینی نوی سند ته اړتیا وه چې د هر ارخیزه مشورو او د اصلاحاتو د تیرو مرحلو د اغیزې ارزونې په نتیجه کې رامنځته شوی وي.

۵۱. د سپتمبر په ۱۶، د اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز د ابتدايي او د استیناف محکمو رییسان، او همدارنګه د یاد مرکز د څارنوالۍ د تحقیقاتو رییس، د یو دوراني معیار په اساس، تبدیل شول. د راپور ورکولو دورې په جریان کې، ابتدايي محکمې ۷ قضیې فیصله کړې، چې د تیر راپور ورکولو دورې په پرتله درې قضیې ډیرې شوي وې. د استیناف محکمې د پولیسو د پخواني قوماندان زمري پیکان په اړه د ابتدايي محکمې حکم تایید کړ کوم چې د ۲۰۱۷ کال راهیسې فراري و، او هغه یې په درې کاله بند محکوم کړ. په ۲۰۱۶ کال کې د یاد مرکز د تاسیس راهیسې، مرکز په ابتدايي محکمه کې د ۳۱۷ متهمینو په شمول ۸۳ قضیې او ۷۳ قضیې په استینافي مرحله کې (د ۶ قضیو په شمول په دغې راپور ورکولو په جریان کې) فیصله کړې چې په کې د استیناف په کچه ۲۲۹ متهمین شامل دي.

۵۲. د نومبر په ۱۲ نیټه، ښاغلي غني د اداري فساد پروړاندې د مبارزې کمیسیون لپاره د پنځو کمیشنرانو (د دوو ښځې په ګډون) د ګمارلو اعلان وکړ، په دې توګه د اداري فساد پر وړاندې د بنسټونو تاسیس نهايي شو. خو، د اداري فساد پروړاندې د قانوني چوکاټ جوربښت لا اوس هم نیمګړی پاتې شوې. د سر مفتش دفتر د تایید شوي قانوني مبنی پرته کار ته دوام ورکوي. د اګست په ۲۶ نیټه، وروسته له دې چې د جمهور رییس لخوا ورته امر وشو چې تحقیقات ترسره کړې، سر مفتش خپلې موندنې په عام ډول اعلان کړې، او د کووید-۱۹ لپاره په تخصیص شوو پیسو کې یې د پراخې کچې ناوړه ګټه اخیستنه یې تایید کړه. هغې وموندله چې د اختلاس او له واک څخه د ناوړې ګټې اخیستنې پیښې شتون لري او ډیری شکمن کسان یې د جرمي تحقیقاتو لپاره لوی څارنوالۍ ته راجع کړه. د اګست په ۲۷ نیټه، د قانون حاکمیت عالي شورا د مفتش دفتر قانوني مبنی په یوه مقرره کې تنظیم کړ او د مفتش دفتر او لویي څارنوالۍ ته یې لارښوونه وکړه چې د مفتش دفتر لپاره د صلاحیت په یوې مناسبې حوزې باندې موافقه وکړي. د اکتوبر په ۶ نیټه، ولسي جرګې د اداري فساد پرضد قانون رد کړ، کوم چې د ولسمشر د تقنیني فرمان له مخې د ۲۰۱۸ د سپتمبر په ۵ نیټه نافذ شوی و، او استدلال یې وکړ چې هغه پروسه چې له لارې یې یاد قانون نافذ شوې و ناقانونه پروسه وه. د نومبر په ۱، مشرانو جرګې، یاد قانون د یو لړ تعدیلاتو سره تصویب کړ. دغه قانون د دواړو خونو د ګډې کمیټې تر پریکړې پورې نافذ پاتې کیږي.

۵۳. دولت د سیمه ییزې حکومتدارۍ او د ملکي خدماتو اصلاحاتو پلي کولو ته دوام ورکړی. د اګست په ۱۷نیټه، کابینې د سیمه ایزې حکومتدارۍ مشورتي بورډ رامنځته کړ، چې پخواني والیان پکې شامل دي، ترڅو د سیمه ایزې حکومتدارۍ اصلاحات پیاوړي کړي. د اکتوبر په ۹، د سیمه ایزې حکومتدارۍ خپلواکې ادارې خپل پنځه کلن ستراتیژیک پلان د سیمه ایزې حکومتدارۍ تګلارې عملي کولو لپاره خپور کړ. دغه پلان د محلي پلان جوړونې، بودیجې جوړولو پروسې او سازماني ظرفیت ښه والي باندې تمرکز کوي ترڅو د خدماتو په وړاندې کولو او د سیمه ایزې سولې هڅو په

مؤثره توګه رهبري کولو کې د ولایتي، ولسوالۍ او ښاروالۍ اداري ملاتړ وکړي.

۵۴. د کووید-۱۹ وبا ناروغۍ له امله ، د اګست په ۵ نیټه وروسته له دې چې په دولتي دفترونو کې ضروري کارمندان او بیا ټول عادي کارمندان خپلو دفترونو ته راستون شول، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمیسیون د اګست په ۲۸ نیټه د ۱۶۱۱۱ جدیدالشموله کچې ملکي بستونو لپاره د ډله ایزې ګمارنې کلنۍ پروسه پیل کړه، په کوم کې چې د ۱۱۴۹۶ بستونه د معلمینو لپاره هم شامل وو. د لومړي ځل لپاره، د مالیې په وزارت کې ۲۲۰ بستونه، د ګمرک ریاست په شمول ، د یادې پروسې برخه وه. سربیره پردې، د ملکي خدماتو ۴۹۵ لوړ بستونه چې مخکې له دې د سرپرست رییسانو لخوا ګمارل شوي وو، تر ګمارنې او استخدام لاندې و.

۵۵. حکومت د ۲۰۱۶-۲۰۲۶ د ښاروندي منشور ملي لومړیتوب پروګرام د ملي ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه پلي کولو ته دوام ورکړ ترڅو فقر کم کړي او د ټولنو ټولنیز-اقتصادي شرایطو ته وده ورکړي. د اکتوبر تر ۲۰ پورې، دغه پروګرام په ټولو والیتونو کې پلي شو، د لنډ مهاله کار ګمارنې او د ۱۳.۵میلیون ګټه اخیستونکو لپاره بریښنا، اوبه لګونه، اوبو رسولو، روغتیا ساتنې خدماتو، سړکونو او پلونو ته د لاسرسي ډیرولو په شمول مهم خدمتونه چمتو کړل، کوم چې په ۱۳۰۰۰ کلیوالي او ښاري ټولنو کې ۵۰ سلنه یې ښځې وې. سربیره پردې، یادې برنامې د ټولنې په کچه د پوهاوي لوړولو او د مرستې هڅو لپاره د یوه بستر په حیث د کووید-۱۹ ناروغۍ ملي غبرګون ملاتړ وکړ. په ناامنو ولسوالیو کې د عملیاتو ځنډول، د پروژې فعالیتونو ناکافي څارنه، د پروژې په انتخاب او پلي کولو کې د ښځو د بشپړ ګډون نشتون، او ځینې وختونه د پروژې د تمویل په تادیه کې ځنډ پشمول، عملیاتي ننګونو د یاد پروګرام د پلي کیدو مخه نیولې وه.

۵۶. لکه څنګه چې د وبا ناروغي (کووید-۱۹) د افغانانو په ژوند اغیزه دوام لري، ملي او نړیوال غبرګون د رغیدنې او مقاومت لپاره اوږدمهاله پلان جوړونې ته مخه کړې. د اګست په ۴ نیټه، نړیوال بانک له افغانستان سره د ۳۸۰ میلیون ډالرو وړیا مرسته منظور کړه ترڅو په کورنیو او بزګرانو د ناروغۍ اقتصادي اغیزې کمولو سره مرسته وکړي. سربیره پردې، ملګرو ملتونو د سیمه ایز خطر او مقاومت ارزونې لپاره د نړیوال بانک او په ملګرو ملتونو کې د کارپوهانو فعالیت زمینه برابره کړه، ترڅو افغانستان او په مرکزي آسیا کې هیوادونه سره یو کړي ترڅو د ګډ خطرونو او مقاومت رامنځته کولو فرصتونه ومونډي. د نومبر په ۶، نړیوال مالي صندوق د ۳۷۰ میلیون ډالرو تمدید شوې اعتباري آسانتیا تصویب کړه ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د وبا ناروغۍ د تاثیراتو څخه ځان وژغوري، اقتصادی اصلاحات پر مخ بوځي او د تمویل کونکو مالی مرستو څخه ګټه واخلي.

۵۷. ملګرو ملتونو د حکومتي ارګانونو په مرسته خپله دادخواهي ګړندی کړی ترڅو د قانوني اصلاحاتو او محافظت ژمني تامین کړي ترڅو زیان منونکي کړنو لکه د وختي اجباري ودونو، د بکارت ازموینې او اخلاقي جرمونو محکومیتونو ته رسیدګي وکړي. د اګست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې، په ټولیزه توګه ۵۳۴۰۰ ښځو، انجونو، هلکانو او سړو ته د خطر په اړه د معلوماتو ورکول ترسره شو، په کوم کې چې جنسي او د تولید مثل د روغتیا په اړه معلومات یاد شمیر کسانو ته ورکړل شول. ملګرو ملتونو د جندر پر بنسټ تاوتریخوالي د مخنیوي ملاتړ ته دوام ورکړ، پداسې حال کې چې د وبا په جریان کې د ژوند ژغورنې په اړه څو سکتوریزه خدمتونه اړوندو کسانو ته وړاندې شول. یاد خدمتونه په ځانګړي توګه د ګرځنده تماس ډلې او د ښځینه روغتیایي محلاتو له لارې وړاندې شول چې شمیر یې ټولټال ۹۲۰۵ ښځو او انجونو ته ورسیده. سربیره پردې، په ټولیز ډول، ۳۷۶۰۰ داخلي بې ځایه شوي اشخاص او راستنیدونکي ، او د دوی کوربه ټولنو ته د جنسي او تولید مثل د روغتیا او رواني - ټولنیز ملاتړ خدمات وړاندې شوي.

۵۸. ملګرو ملتونو د وبا په غبرګون کې د بدیل ښوونې او روزنې پلان پلي کولو کې د دولت ملاتړ ته دوام ورکړ. د

اکتوبر په لومړیو کې، د ټولو ټولګیو د بیا شروع کیدو او وروسته له هغه، ملګرو ملتونو د خطر کمولو تدبیرونو لپاره تخنیکي ملاتړ وړاندې کړ ترڅو زده کونکي ښوونځیو ته بیرته راشي او پاتې درسونه جبران کړي. سربیره پردې، ملګرو ملتونو په افغانستان کې د عمومي زده کړې د تغییر په هدف د وړتیا پر اساس د نوي درسي چوکاټ نهایي کولو کې د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړ.

## پنځم. بشر دوستانه مرستې

.۵۹ بشري اړتیاوې د روان تاوتریخوالي، طبیعي پیښو او د خوراکي توکو د نه خوندیتوب د لوړې کچې له امله لا هم زیات شوې، چې د کووید-۱۹ وبا په واسطه لا شدت یې موندلې. اټکل کیږي چې په بې سابقه توګه کابو ۱۸.۴ میلیون خلک به په ۲۰۲۱ کې بشري مرستو ته اړتیا ولري، د ۲۰۲۰ په پیل کې یاد شمیر ۹.۴ میلیونو خلکو ته رسیده او د کال په منځ کې ۱۴ میلیونو ته لوړ شو.

.۶۰ د نومبر تر ۱۵نیټه پورې، په ټول افغانستان کې شاوخوا ۴۳۲۴۰ خلک د کووید-۱۹ په ناروغۍ اخته شوي و، مګر باور دا و چې واقعي شمیره خورا لوړه وه. روغتونونو او کلینیکونو د کووید-۱۹ ناروغانو درملنې لپاره د خپل ظرفیت ساتلو یا پراختیا کې او همدارنګه د لازمي روغتیایي خدماتو ساتلو کې د ننګونو راپور ورکولو ته دوام ورکوي، او وړاندوینه شوې چې په راتلونکو میاشتو کې به د مړینې او ناروغۍ کچه لا لوړه شي. د روغتیا او تغذیې معلوماتو ښودلې چې ناروغان لومړني روغتیایي خدمات نه ترلاسه کول ځکه چې سیستم بې اعتباره شوی، او ډیری خلک د ویره له امله د روغتیایي مرکزونو څخه زانونو لرې ساتي، ځکه چې دوی په ویروس د اخته کیدو ویره لري. په اکتوبر کې، د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر (UN-Women) او د ژغورنې نړیوالې کمیټې په ښځو په ځانګړې ډول د داخلي بې ځایه شویو ښځو باندې د وبا د غیر متناسب د اغیزو ملي ارزونه خپره کړه. په څیړنه کې یادونه شوې چې ۷۸ سلنه ښځې د رواني شخړې او کووید-۱۹ ناروغۍ له امله د رواني روغتیا ناوړه اغیزې تجربه کړې.

.۶۱ د وبا ناروغۍ له پیل راهیسې، د بشري مرستو کارمندانو د کووید-۱۹ اړتیاوو ته د رسیدګۍ په موخه څو سکتوریز غبرګون پلې کړی او د کووید-۱۹ ځانګړې مرستې سره یې په ټول هیواد کې ۳ میلیونه خلکو ته رسیدګې کړې. په یاد غبرګون کې لاندې موارد شامل وو: د ۱۴ لابراتوارونو رامنځته کول چې په هره ورځ د ۵۵۰۰ ازموینو ترسره کولو ظرفیت لري، د ګوزڼ ځارنې د ۳۴۰۰۰ تنو رضاکارانو استول ترڅو قضیه شناسایي کړي او د لومړنې تماس ردیابۍ پورې اړوند فعالیتونه ترسره کړي؛ د ۳۴ ولایتونو په شاوخوا ۱۲۰۰۰ کلیو کې د ۶۱۴۰۰ څخه زیات د ټولنې مشران او نفوذ لرونکي خلک ښکیل کول ترڅو د خطر په اړه معلومات ورکولو او د ټولنې ښکیلتیا پیغامونه ګړندي کړي؛ د ۱.۱ میلیون واحدونو څخه ډیر محافظتي تجهیزات په هیواد کې روغتیايي چمتو کونکو او د لومړۍ لیکې مرستې کارمندانو ته وړاندې کول؛ د ناروغۍ مخنیوي او کنټرول اقداماتو کې د ۴۳۵۰ څخه زیاتو روغتیايي کارکونکو ته روزنه، د طبي لابراتوار ازموینې کې ۱۹۳ روغتیا پاملرنې کارکونکي او په رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ کې ۱۶۰ روغتیا پاملرنې کارکونکو ته روزنه، په دخولي دروازو کې له ۵۱۹۰۰۰ څخه د زیاتو خلکو سکرین (screen) کول؛ ۲.۹۲ مبلیونه خلکو ته د اوبو او روغتیا ساتنې مرستې چمتو کول، شاوخوا ۱۱۹۵۰۰ ماشومانو ته د رواني ملاتړ برابرول، ۱۱۹۵۰۰ څخه زیاتو خلکو ته ټولنیز او د کور میشته زده کړې توکي برابرول؛ او ۴.۷ میلیون خلکو ته د کووید-۱۹ په اړه د پوهاوي لوړولو فعالیتونو وړاندې کول.

.۶۲ د اګست له ۴ څخه د نومبر تر ۱۲ پورې، صحي شریکبانو د ۲۱۴۴۲۲ څخه زیاتو خلکو ته طبي مرستې ورسولي، چې ۵۸ سلنه یې ښځې او انجونې وې. د روحي صدماتو د قضیو شمیر د کال په لومړۍ نیمايي کې کم شو مګر د

نویو جګړو له امله د کال له منځ څخه راپدیخوا ډېر شو. د جنوري او نومبر ترمنځ، ملګرو ملتونو او شریکباڼو یې د جګړې او طبیعي پیښو څخه اغیزمن شوي د ۵۸۱۳۰۰ څخه زیاتو خلکو ته بیړني سرپناه، د کور توکي او نغدي مرسته چمتو کړې.

۶۳. د نومبر تر ۱۲ نیټې پورې، دجنوري ۱ راهیسې د ګوزڼ ۵۴ قضیې تایید شوي، حال دا چې په ټول ۲۰۱۹ کې ۲۹ قضیې تایید شوې وې. ډیری قضیې په هغو سیمو کې پیښې شوي چیرې چې د کور په کور د واکسین کمپاینونه د ۲۰۱۸ کال د مې د میاشتې راهیسې منع شوي و. د ګوزڼ ناروغۍ اوس ۸ نویو ولایتونو ته خپره شوی، چې د خلکو په منځ کې د معافیت کمیدل په ګوته کوي. د ځنګلي ګوزڼ ویروس سربیره ، افغانستان د ګوزڼ ویروس دویم ډول یې سرایت هم تجربه کړ وروسته له هغه چې په پاکستان کې د یاد ګوزڼ پیښې رامنځته شوې، چې په پایله کې یې ۱۳۶ تایید شوي قضیې شتون لري.

۶۴. افغانستان د خوراکي توکو د نه خوندیتوب له جدي ناورین سره مخ دی، چې د ملیونونو خلکو ژوند ګواښي. په تیرو پنځو کلونو کې، د خواړو نا امنه خلکو سلنه نږدې دوه چنده شوې، پداسې حال کې چې د "ناورین - کچې" یا "اضطراري کچې" وضعیت کې د خلکو تناسب څلور چنده ډېر شوی دی. دا مهال ۱۶.۹ میلیونه خلک د خوراکي توکو د نه خوندیتوب په "ناورین" او "اضطراري" کچه کې دي، چې په نړۍ کې ترټولو لوړه شمیره ده. په ټولو ولایتونو کې د خوراکي خوندیتوب کموالی د کورنیو د پورونو ډیریدل او د ناروغۍ روان ټولنیز اقتصادي تاثیر سره سمون دي، کوم چې د اړین اجناسو قیمت په بازارونو کې لوړ کړی. د اګست له ۱ څخه د نومبر تر ۱۵ پورې، ملګرو ملتونو او شریکباڼو یې د ۱۰۷۰۰۰خلکو لپاره چې د جګړو له امله بې ځایه شوي او ۱۷۰۰۰ خلکو په شمول چې د طبیعي آفات لخوا اغیزمن شوي، کابو ۲۸۳۰۰ ټنه خواړه د خوړو نه خوندي خلکو ته چمتو کړل. د وبا د ټولنیز اقتصادي تاثیر لاندې خلکو د ملاتړ لپاره، ملګرو ملتونو او د شریکباڼو یې د ۱ میلیون خلکو لپاره د خواړو اضافي مرستې چمتو کړې.

۶۵. په ۲۰۲۰ کې افغانستان ته د راستنیدونکو شمیر، چې مجموعي شمیر یې له ۷۲۵۰۰۰ ډیر دی، او اوس د ۲۰۱۹ کچې څخه ۴۱ سلنه زیاد دې او تمه کیږي چې د بې اسنادو مهاجرو لپاره به د راستنیدو ترټولو لوی کال وي. د اګست له ۴ څخه د نومبر تر ۱۲ پورې ، ۱۳۱۶ با اسناده او ۲۳۹۵۰۱ بې اسناده مهاجرین راستانه شوي چې په عمده ډول د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان څخه راستانه شوي. د ایران اسلامي جمهوریت څخه په اجباری ډول شړل شوي اشخاص کابو ۳۷ سلنه د ټولو راستنیدونکو څخه جوړوي. په ۲۰۲۰ کال کې ټولټال ۹۰۶۲ افغانان له ترکیې څخه په اجباري ډول ایستل شوي وو، چې په هغو کې ۱۳۳۹ تنه شامل دې چې د یاد کال د اکتوبر په میاشت کې د نوموړي هیواد څخه شړل شوي.

۶۶. د ۲۰۲۰ کال د جولای څخه تر سپتمبر پورې، د ماین پاکۍ اداري او شریکباڼو یې ۲.۸۲ کیلومتره مربع ځمکه د لوړ تاثیر لاندې چاودیدونکو توکو څخه پاکه کړه، چې ۹۰ چاودیدونکي توکي یې په خوندي ډول له منځه وړي، چې ۲۱ ټولنو ته یې ګټه رسوي. سربیره پردې، د راپور ورکولو په جریان کې په افغانستان کې ۲۱۲۱۴۱خلکو د چاودیدونکو توکو د خطر زده کړه ترلاسه کړه.

۶۷. پراخه ناامني د بشرپالنې لاسرسي پروړاندې د ننګونو وړاندې کولو ته دوام ورکړی. د جنوري ۱ راهیسې، بشردوستۍ کارمندانو د لاسرسي اړوند ۸۹۳ پیښو راپور ورکړی، چې په ۲۰۱۹ کې د ورته مودې په پرتله ۵۷ سلنه زیاتوالی دی، چې ۹۰ یې د وبا سره تړاو لري. د اګست د ۴ او د نومبر ۱۲ ترمنځ، د مرستې ۵ کارګران وژل شوي، ۱۷ تنه ټپیان او ۲۱ تښتول شوي.

۶۸. د ملګرو ملتونو د بشردوستانه هوايي خدماتو اداري لخوا نړيوال هوايي پل رامنځته شوی چې په عمده ډول د کابل او دوحه ترمنځ د بشردوستانه کارمندانو او تمويل کونکي تګ راتګ تسهيل کوي ترڅو په اوني کې درې ځله خپل کار ته دوام ورکړي، چې په ترڅ کې يې د اګست له ۴ څخه د نومبر تر ۱۵ پورې، ۳۱۰ مسافر ليږدولي. د هوايي پل به لږ تر لږه د دسمبر تر پای پورې کار وکړي.

۶۹. د ۲۰۲۰ بشردوستانه غبرګون پلان له مخې، د ۱.۱ ميليارد ډالرو غوښتنه شوې چې ۱۱.۱ ميليون افغانانو ته بشردوستانه مرستې چمتو کړي. د نومبر تر ۱۵ پورې، ياد پلان ۴۳ سلنه تمويل شوی، چې د تمويل تشه يې ۶۴۰ ميليون ډالرو ته رسيږي. د سپټمبر په پای کې، ملګرو ملتونو او غير دولتي سازمانونو د ۴۰۱ ولسواليو څخه په ۳۹۰ ولسواليو کې ۷.۶ ميليون خلکو ته بشر دوستانه مرستې رسولي، چې د کال لپاره د پلان شوي شمير ۶۸ سله جوړوي.

## شپږم . د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه

۷۰. د جولای له ۱۵ څخه تر نومبر پورې، د قانون پلي کونکو ادارو د مخدره توکو پرضد ټولټال ۱۰۲۹ عمليات ترسره کړي چې په پايله کې يې ۶۰۵ کيلو ګرامه هيرويين، ۱۵۱۹ کيلوګرامه ترياک، ۵۰۷۸ کيلوګرامه چرس او دبنګو بوټي، ۶۴۰ کيلو ميتامفيتامين، ۷۴ليټره اسيتيک اسيد، ۲۰۲۹ کيلو ګرامه امونيم کلورايد، ۹۹۵ کيلو ګرامه پوټاشيم کلورايډ، ۲۵۰کيلو ګرامه امونيم نايټريټ او ۲۴۰ کيلو ميتيلينډی آکسيډيمفاميتامين (MDMA) ضبط شوي. د هغو په پايله کې ۱۲۰۲ شکمن کسانو ګرفتار او ۱۷۵ موټر او ۶۱ ميله وسلې مصادره شوی. سربيره پردې، د کورنيو چارو وزارت لخوا په رهبري شوي عملياتو کې ۷ هکتاره د خشخاشو کښت له منځه وړل شوي دي.

## اووم. د ماموريت ملاتړ

۷۱. د اکتوبر تر ۳۱ نيټې پورې، د ۸ سلنې، ۳ سلنې او ۳ سلنې د منل شويو کچو په پرتله، په يوناما کې د نړيوالو کارکونکو لپاره د تشو پوسټونو کچه په ترتيب سره ۱۳ سلنه، د داخلې مسلکي افسرانو لپاره ۷ سلنه و د داخلي کارکونکو لپاره ۳ سلنه وه. د نړيوالو کارکونکو لپاره ۳۶ سلنې، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره د ۴۵ سلنې او د داخلي مسلکي کارکونکو لپاره د ۱۳ سلنې او د داخلې کارکونکو لپاره د ۹ سلنې په درلودلو سره، د ښځينه کارکونکو د تناسب کچه ټيټه پاتې شوې.

۷۲. پداسې حال کې چې د کوويد-۱۹ وبا په غبرګون کې د مهمو برنامو او فعاليتونو ترسره کول جاري ساتلي، د کار بديل د ترتيباتو کارول دوام لري. د يوناما او د ملګرو ملتونو ادارو، صندوقونو او برنامو پريکړه کړې چې د دندې په ساحه کې د خارجي کارکونکو او داخلي کارمندانو حاضري ورکول په تدريجي ډول زياتوالی مومي، د کوويد-۱۹ په قضيو کې احتمالي بدلونونو په پام کې نيولو سره به د کارکونکو شمير به په منظم ډول بيا تر غور لاندې راشي.

## اتم. ملاحظات

۷۳. افغانستان د سولې د خبرو اترو له پيل سره د سولې په لور يو مهم ګام پورته کړی دی. زه د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د طالبان د خبرو اترو ټيمونه هڅوم چې ګډ تفاهمات او موافقتنامې ومومي چې کولی شي د شخړو غمناکه لسيزې پای ته د رسيدو لپاره يو پيل وګڼل شي. زه د ۲۰۲۰ کال په کنفرانس کې د ګډې هوسايني او راتلونکي سولې جوړولو لپاره د نړيوالې ژمنې او دغه ډول د افغانانو په رهبری او د افغانانو په مالکيت شخړې ته د پاي د ټکي کېښودول د اړتيا

تشخیصولو لپاره مننه کوم. دا زما ژوره هیله ده چې د افغانستان د سوله ایز پرمختګ لپاره دوامداره هوکړه ترلاسه شي.

۷۴. زه اندیښنه لرم چې د تاو تریخوالې لوړې کچې حتی په دې لومړي مرحله کې د سولې پر پروسې باور زیانمن کولی شي. د ژوند د ژغورلو او د خلکو باور خوندي کولو لپاره د جګړې د شدت کمول اړین دي. د سولې پروسې په لومړیو مرحلو کې د قربانیانو د غږونو شاملول د ریښتیني پخلاینې لاسته راوړلو لپاره یو مهم ګام وي.

۷۵. ملکي وګړي د وسله والې نښتې زغملو ته دوام ورکوي، په داسې حال کې چې په هرو لسو ملکي تلفاتو کې چې ثبت شوي له ۴ څخه ډیرې ښځې او ماشومان دي. د په لاس جوړ ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو دوامداره کارول، په ځانګړي توګه هغه توکې چې د پرسونل ضد ماینونو په توګه فعالیت کوي، تر ټولو ډیر تلفات منځ ته راوړي. ډیری قربانیان احساس کوي چې د لنډمهاله او اوږدمهاله زیانونو د رسیدګۍ لپاره خورا لږ کارونه ترسره شوي چې دوی ورسره مخ دي.

۷۶. که چیرې د سولې خبرې امید او هیله منځته راوړي، باید د ښکېلو خواو لخوا ژمنه وشي چې د ټولو افغانانو د بشري حقونو ساتنه وکړي او نړیوال تړونونه چې یاد هیواد یې یو اړخ دی ملاتړ وکړي. زه له ښکېلو غاړو څخه غواړم چې پدې برخه کې صریح او روښانه څرګندونې وکړي ترڅو د باور او شمولیت چاپیریال سره مرسته وکړي. ښځې، ځوانان، د مدني ټولنې فعالین او د جګړې قربانیان باید فرصتونه ولري چې د پروسې په هر مرحله کې معنی لرونکې ونډه واخلي. زه په ملکي وګړو د بریدونو د سمدستي بندولو غوښتنه کوم، په دې وروستیو قربانیانو کې دیني مشران، د رسنیو استازي او د مدني ټولنې شخصیتونه شامل دي، او د افغانستان حکومت څخه غواړم ترڅو اطمینان تر لاسه کړي چې د دا ډول ناوړه جرمونو مرتکبینو سره حساب او کتاب وشي. زه د قربانیانو او زیان منونکو ډلو په شمول د ټولو ښځو او نارینه و د بشري حقونو په ساتنه او وده کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کار څخه خپل ملاتړ یو ځل بیا تکراروم.

۷۷. په افغانستان کې سوله به په سیمه کې ثبات ته د ودې په ورکولو کې مرسته وکړي او د سوداګرۍ او پانګې اچونې د ودې، د پراختیایی همکارۍ ښه والي او د خلکو تر منځ د اړیکو د پراخوالي په ګډون، ګن شمیر سیاسي او اقتصادي فرصتونه به وړاندې کړي. په داسې یو کال کې چې د کووید-۱۹ ناروغۍ له امله په حضوري ډول ډیپلوماسي محدوده شوې، زه د افغانستان د سیمه ایزو ملګرو لخوا د دوامداره پیغامونو څخه خوښ یم چې شخړې ته د سوله ایز حل اهمیت تصدیق کوي.

۷۸. ښځې او انجونې د خپلو حقونو څخه د بشپړې ګټې اخیستنې لپاره جدي خنډونو سره لام هم مخ دي. د ولسمشر د فرمان له مخې چې د وګړو د مور نوم باید په ملي تذکرو کې شامل شي په عامه برخه کې د ښځو د ځواکمنتیا په لور مهم ګام دی، او زه له دولت څخه غوښتنه کوم چې د ښځو لپاره د تقنیني او سازماني چاپیریال د ښه کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي. د جزا په کوډ کې د بکارت ازموینې بشپړ منع کولو کې روانه ناکامي د دې عمل دوام سبب ګرځي، کوم چې د ښځو او انجونو له بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ګڼل کیږي.

۷۹. د ۲۰۲۰ په پیل کې، حکومت په توقیف ځایونو کې د کووید-۱۹ د خپریدو مخه ونیوله په کوم کې چې د عفو او جزا کمولو له لارې د زندان نفوس کم کړ. زه حکومت هڅوم چې د زندان نفوس د امکان تر حده ټیټ ساتلو سره دې اقدام ته دوام ورکړي او د محاکمې څخه مخکې توقیف او د مجازاتو د بدیل کارول په نظر کې ونیسي ، او په زندانونو کې د بندیانو د حد څخه د زیاتوالي د مخنیوي لپاره عاجل اقدامات به پام کې ونیسي.

۸۰.	زه د ۲۰۲۰ کال د افغانستان لپاره د کنفرانس د اعلامیې تصویب، په کومه کې چې د افغانستان لپاره د روانو نړیوال ملاتړ، د افغانستان د مشراکت کاري چوکاټ او د افغانستان د سولې او پراختیا ملي کاري دویم چوکاټ د حکومت وروستۍ پریکړې ته د رسیدو تاییدوی، هرکلی کوم ، کوم چې به په راتلونکو څلورو کلونو کې د سولې او هوسایښې په لور پرمختګ کې مهم وي. د نړیوال ملاتړ هم سیاسي او هم مالي دوام، به د سولې او ځان بسیاینې په لور د هیواد د روان پرمختګ یو مهم عنصر وي.

۸۱.	د عامه ادارو د حساب ورکوونې ښه کول، د اداري فساد ضد اصلاحاتو او ستراتیژۍ ته لومړیتوب ورکولو په شمول، د افغانستان د راتلونکي سوکالۍ خوندي کولو لپاره اړین دي. د اداري فساد پروړاندې د خپلواک کمیسیون په رامنځته کولو سره، حکومت کولی شي په ټولو سکټورونو کې د فساد پروړاندې د مبارزې لپاره خپل جوړښتونه او هڅې منظمې کړي.

۸۲.	زه د کووید-۱۹ناروغۍ د روغتیایی او ټولنیز اقتصادي اغیزو په ځانګړي توګه په افغانستان کې ترټولو زیان منونکي ډلو  په اړه ژوره اندیښنه لرم. یادې ناروغۍ بشردوستانه او پرمختیایی ننګونې ډیرې کړې، روغتیایی پاملرنې او تعلیم ته لاسرسی یې د خنډ سره مخ کړی او د اقتصادي ودې مخه یې نیولې، چې له امله یې میلیونونه افغانان اغیزمن شوي دي. لکه څنګه چې د ژمي موسم رارسیدلی، زه اندیښمن یم چې د کووید-۱۹ قضیو کې بیاځلي لوړوالی به د هیواد روغتیایي سیستم او اقتصاد تر فشار لاندې راوړي، چې د نورو رنځونو او کړاونو لامل کیږي. زه په مرستندویانو غږ کوم چې د بشردوستانه غبرګون پلان لپاره مالي تمویل زیات کړي ترڅو د وبا په برخه کې قوي او مؤثره غبرګون رامنځته شي، د هغو تدابیرو په شمول چې د بیارغونې اوږدې مودې په جریان کې د ډیرو زیان منونکو خلکو لپاره ټولنیز محافظت ډیروي.

۸۳.	زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو او زما د ځانګړې استازې او د یوناما رئیسې، دیبورا لاینز څخه، تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د کار چې موخه یې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.